# النحل

**مکی سورة دی ۱۲۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ١

**( د مؤمنانو د فتحې او د کافرانو او مشرکانو د ماتې او رسوایی او د قیامت د حتمی راتګ په باب) د الله تعالی قاطعانه فرمان راغلی، نو تاسو (کافران )یې په تلوار غوښتنه مه کوی. پاک او منزه دی د الله تعالی ذات، له دې چې کافران ورسره شریکان غوره کړی.**

يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ٢

**الله پاک پخپلو بندګانو کې غوره کړی شخصیت ته له خپل فرمان سره پرښتې ورلیږی( او د نبوت مقام ورسپاری) ترڅو خلکو ته خبرداری ورکړی چې له ما نه غیر، بل خدای نشته، نو زما له (عذابه) وویریږئ.**

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣

**الله تعالی چې آسمانونه او ځمکه یې په حق( اوحکمت) پیدا کړی، مقام یې له دې ډیر اوچت او عالی دی چې( کافران او مشرکان) ورسره په خدایی کې نور شریکان غوره کړی.**

خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ٤

**انسان یې له (بې ارزښته) اوبو له څاڅکی پیدا کړ خو هماغه( انسان بې له دې چې خپل خلقت او اصل ته پاملرنه وکړی، په نا حقه او ګستاخانه ډول حتی د خپل رب د احکامو په مقابل کې ) جګړه ماری پیل کړه.**

وَٱلۡأَنۡعَٰمَ خَلَقَهَاۖ لَكُمۡ فِيهَا دِفۡءٞ وَمَنَٰفِعُ وَمِنۡهَا
تَأۡكُلُونَ ﴿٥﴾

**او څاروی يې پيدا کړل چې تاسو ترې د تودوخې (وسايل) او نورې ګټې ترلاسه کوئ( او د ځينو غوښې او لبنيات) خورئ.**

وَلَكُمۡ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسۡرَحُونَ ﴿٦﴾

**او ستاسو لپاره لا د ښکلا او رونق خاص منظر هغه دی چې ماښام، دغه څاروی( له څريدو وروسته) کور ته راستنوئ او سهار مهال يې بيا څرځايونو ته بيايئ.**

وَتَحۡمِلُ أَثۡقَالَكُمۡ إِلَىٰ بَلَدٖ لَّمۡ تَكُونُواْ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ
ٱلۡأَنفُسِۚ إِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ﴿٧﴾

**او همدغه څاروی ستاسو درانه بارونه هغو ښارونو ته انتقالوی چې تاسو به يې پخپله په ډېره سختۍ او کړاو ورسولی شئ. بيشکه چې ستاسو رب د ډير زيات شفقت او مهربانۍ څښتن دی.**

وَٱلۡخَيۡلَ وَٱلۡبِغَالَ وَٱلۡحَمِيرَ لِتَرۡكَبُوهَا وَزِينَةٗۚ وَيَخۡلُقُ مَا لَا
تَعۡلَمُونَ ﴿٨﴾

**او آسونه او قچرې او خره يې پيدا کړل چې ورباندې سپرلۍ کوئ او ستاسو لپاره پکې تجمل او ښکلا ده او په راتلونکې کې به( د دغو نقليه وسايلو نه علاوه) نور نقليه وسايل راپيدا کړی چې تاسو ورباندې(اوس) نه پوهيږئ.**

وَعَلَى ٱللَّهِ قَصۡدُ ٱلسَّبِيلِ وَمِنۡهَا جَآئِرٞۚ وَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ
أَجۡمَعِينَ ﴿٩﴾

**او د هدايت او نيکمرغۍ په لاره د خلکو روانول، د الله تعالی کار دی، او ځينې کږې او منحرفې لارې هم شته( چې ورباندې تلل به تاسو له ابدی نيکمرغۍ نه محروم کړی.) او که الله تعالی وغواړی تاسو ټول به( په اجباری توګه) د هدايت په لاره برابر کړی.**

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗۖ لَّكُم مِّنۡهُ شَرَابٞ وَمِنۡهُ شَجَرٞ
فِيهِ تُسِيمُونَ ١٠

الله تعالی هغه ذات دی چې له آسمانه اوبه نازلوی چې هم یې تاسو څښنی او هم پرې ونې (او نباتات) راشنه کیږی چې تاسو پکې( خپل څاروی) څروی.

يُنۢبِتُ لَكُم بِهِ ٱلزَّرۡعَ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلنَّخِيلَ وَٱلۡأَعۡنَٰبَ وَمِن
كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ١١

او د همدې اوبو په وسیله یې ستاسو لپاره د غلې دانې کښتونه او زیتون ، کجورې او انګور او هر ډول میوه جات را زرغون کړل. بیشکه چې( په دغو چارو کې) د هغو ولسونو لپاره د عبرت نښې پرتې دی( چې د الله تعالی د توحید، ربوبیت او کامل قدرت په باب) فکر او غور کوی.

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ وَٱلنُّجُومُ
مُسَخَّرَٰتُۢ بِأَمۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ١٢

او شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ یې ستاسو لپاره مسخر( او د ګټې اخستو وړ وګرځول) او ستوری هم د هغه د حکم تابع دی. په دغو( حقایقو) کې د عاقلانو او پوهانو لپاره( د الله تعالی د کامل قدرت څرګند) دلایل پراته دی.

وَمَا ذَرَأَ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَذَّكَّرُونَ ١٣

او په هغو شیانو( لکه ډول ډول نباتاتو، حیواناتو او جماداتو) کې چې په بیلابیلو رنګونو یې ستاسو لپاره په ځمکه کې پیدا کړی، د پند اخستونکی قوم لپاره( د الله تعالی د قدرت) دلایل څرګندیږی.

وَهُوَ ٱلَّذِى سَخَّرَ ٱلْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا۟ مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا
وَتَسْتَخْرِجُوا۟ مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى ٱلْفُلْكَ مَوَاخِرَ
فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٤﴾

او الله تعالی هغه ذات دی چې سمندر یې ستاسو لپاره د ګټې اخستو وړ ګرځولی ترڅو یې تازه غوښې وخوری او مرغلرې( او نور قیمتی بحری کانې) ترې راوباسئ چې د ګاڼو په حیث یې په تن کړئ او کښتیو ته وګورئ چې د اوبو سینه څیروی( او ستاسو تجارتی مالونه نورو هیوادونو ته انتقالوی او د تجارتی راکړو ورکړو له لارې) تاسو د الله تعالی فضل او احسان لټوئ تر څو یې( د نعمتونو) شکریه اداء کړئ.

وَأَلْقَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَـٰرًا وَسُبُلًا
لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥﴾

او په ځمکه کې یې غرونه د مستحکمو میخونو په حیث ټکوهل چې( له اضطرابی حالت څخه کراره شوه او) په تاسو نه څرخی، او بهیدونکی سیندونه او لارې یې جوړې کړې( چې تاسو وربانديې خپلو منازلو او اهدافو ته د رسیدو لپاره) لاره ومومئ.

وَعَلَـٰمَـٰتٍ ۚ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾

او( د دې لپاره چې په غرونو او دښتو او درو کې لالهانده او ورک نشئ) لارښوونکې نښې یې جوړې کړی او د شپې په تریږمئ کې( په بیابان او بحر کې) د ستورو په واسطه هم لارې میندلی شئ.

أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾

نو آیا هغه ذات( الله تعالی) چې هر څه پیدا کوی، د هغه چا په شان دی چې هیڅ شی نشی پیدا کولی( د بتانو په وړاندې مو د عبادت دلیل څه دی؟) آیا پند او عبرت نه اخلئ ؟( باید خالق او مخلوق وپیژنئ او پخپل حقیقی خالق ایمان راوړئ).

وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨﴾

او که د الله تعالی د (هغو) نعمتونو په شمیرلو پیل وکړئ( چې په تاسو یې لورولی) وبه یې نشئ شمیرلی، حقیقت دا دی چې الله تعالی ډیر زیات ښونکی او رحم کوونکی ذات دی.

وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ ﴿١٩﴾

**او الله تعالی ستاسو په پټو( عقایدو) او ښکاره (کړنو) ډیر ښه خبر دی.**

وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ ﴿٢٠﴾

**او هغه باطل خدایان چې( کافران او مشرکان یې) د الله تعالی په ځای عبادت کوی، هیڅ شی نشی پیدا کولی بلکه دوی هم پیدا کړی شوی (مخلوق) دی.**

أَمۡوَٰتٌ غَيۡرُ أَحۡيَآءٖۖ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ﴿٢١﴾

**مړه دی، نه ژوندی. او په دې هم نه پوهیږی چې (دوی او پیروان به یې د حساب کتاب لپاره) کله بیرته راژوندی کیږی؟**

إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ فَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٞ وَهُم مُّسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٢٢﴾

**ستاسو حقیقی رب، واحد او لاشریک ذات( الله تعالی) دی، او هغه کسان چې آخرت نه منی، زړونه یې( له حق منلو نه) اوښتی او دوی مستکبرین دی.**

لَا جَرَمَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡتَكۡبِرِينَ ﴿٢٣﴾

**بیشکه چې الله تعالی د دوی په پټو( دسیسو او پلانونو) او ښکاره( جګړو او مخالفتونو) ډیر ښه پوهیږی او الله تعالی( د توحید، رسالت او قیامت له حقیقت نه منکر ) مستکبرین نه خوښوی.**

وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡ قَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾

**او چې له دغو متکبرینو نه پوښتنه وشی چې ستاسو د رب له لوری( په محمد علیه السلام باندې د نازل کړی شوی کتاب په باب څه عقیده لری؟) نو وایی( د قرآن په نوم کتاب) یوازې د پخوانیو خلکو کیسې دی.**

لِيَحۡمِلُوٓاْ أَوۡزَارَهُمۡ كَامِلَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَمِنۡ أَوۡزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾

**(د دغو کسانو جزا داده چې) د قیامت په ورځ به یې د خپلو ټولو ګناهونو پیټې په اوږو وی او د هغو خلکو ګناهونه به هم وربانديې بار وی چې په ناپوهۍ سره د دوی په واسطه ګمراه شوی دی. خبردار اوسئ چې دوی د مسئولیت ډیر بد پیټی په اوږو اخستی دی.**

قَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنْيَٰنَهُم مِّنَ
ٱلْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ ٱلسَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ
مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

**له دوی نه وړاندې هم ځینو کسانو( د حق د له منځه وړلو لپاره) دا ډول دسیسې او چلوټې جوړولې خو الله تعالی یې د دسیسو ماڼۍ له بیخه ونړولې او( د خپلو کورونو) چتونه وربانديې راپریوتل او له داسې لورو وربانديې عذاب نازل شو چې د دوی په خیال خاطر کې هم نه راتلل.**

ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ
تُشَٰٓقُّونَ فِيهِمْ ۚ قَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ إِنَّ ٱلْخِزْىَ ٱلْيَوْمَ وَٱلسُّوٓءَ
عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٧﴾

**بیا به یې د قیامت په ورځ لاپسې خوار او ذلیل کړی او ورته به ووایی : چیرې دی زما هغه شریکان ( او ستاسو باطل خدایان) چې تاسو به یې د ملاتړ لپاره( له پیغمبرانو او مسلمانانو سره) دښمنی کوله. (دوی به ټول بې ځوابه پاتې شی، خو) د پوهې او بصیرت خاوندان به ووایی چې نن ټوله رسوایی او ذلت د کافرانو په برخه دی.**

ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ ۖ فَأَلْقَوُا۟ ٱلسَّلَمَ مَا كُنَّا
نَعْمَلُ مِن سُوٓءٍۭ ۚ بَلَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾

**هغه کسان چې په ځان ظلم کوی، کله یې چې پرښتې د مرګ لپاره راونیسی( د تکبر او غرور شملې به یې رانسکورې شی او) د اطاعت او تسلیمۍ چیغې سورې به ووهی او وایی به: مونږ خو هیڅ بد کار نه دی کړی،( په ځواب کې به ورته وویل شی:) بیشکه چې الله تعالی ستاسو له کړنو ډیر ښه خبر دی.**

فَادْخُلُوٓاْ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَلَبِئْسَ مَثْوَى
ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٢٩﴾

نو د دوزخ په دروازو ورننوځئ او تل تر تله پکې واوسیږئ. رښتیا چې دا تر ټولو بد هستوګنځی دی د تکبر کوونکو لپاره.

۞ وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمْۚ قَالُواْ خَيْرًاۗ لِّلَّذِينَ
أَحْسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا حَسَنَةٌۚ وَلَدَارُ ٱلْأٓخِرَةِ خَيْرٌۚ وَلَنِعْمَ دَارُ
ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٣٠﴾

او چې له پرهیزګارانو پوښتنه وشی: د خپل رب د نازل شوی کتاب په باب څه عقیده لرئ نو وبه وایی چې( د الله تعالی کلام ټول برکت او) خیر دی. نیک عمله کسانو ته به په دنیا کې نیک اجر( عزت او نصرت) ورکړی شی خو د آخرت کور ورته تر ټولو( دنیا او مافیها) هم غوره او بهتر دی. په رښتیا چې ډیر غوره دی د پرهیزګارانو (جنتی) کور.

جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُۖ لَهُمْ فِيهَا مَا
يَشَآءُونَۚ كَذَٰلِكَ يَجْزِي ٱللَّهُ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٣١﴾

په هغو تلپاتې جنتونو کې چې پرهیزګاران به ورننوزی (د الهی نعمتونو) ویالې روانې دی، څه چې یې زړه غواړی ورته به راوړل کیږی. همدغه دی د الله تعالی اجر او ثواب پرهیزګارانو ته.

ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمُ ٱدْخُلُواْ
ٱلْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٢﴾

دا نیکمرغه کسان( له عملی او اخلاقی فساد نه) پاک دی او چې کله ورنه پرښتې (د سپیڅلتیا په حال کې) روح اخلی، ورته به وایی: سلام دې وی په تاسو، اوس د خپلو نیکو اعمالو په برکت جنت ته ننوزئ.

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِىَ أَمْرُ رَبِّكَ ۚ كَذَٰلِكَ
فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ
يَظْلِمُونَ ﴿٣٣﴾

**آیا( کافران او مشرکان) هغې شیبې ته سترګې په لار دی چې (ارواح قبضوونکې) پرښتې ورته راشی او یا ورته (د عذاب لپاره) الهی فرمان ابلاغ شی؟ له دوی نه پخوانی خلک هم همداسې ( د انبیاو په تکذیب کې ټینګ ولاړ وو، او د حق په مقابل کې یې د دښمنۍ جنډې اوچتې کړې وې) او الله تعالی (هغوی ته په سزا ورکولو کې) په دوی ظلم نه و کړی بلکه دوی پخپله( د ګناهونو په ارتکاب سره) پخپلو ځانونو ظلم کاوه.**

فَأَصَابَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُوا۟ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ
يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٣٤﴾

**نو د خپلو ناوړو کړو انجام یې ولید  او هغه (عذاب) ترې راچاپیر شو چې دوی به وربانده تل ملنډې وهلې.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدْنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَىْءٍ
نَّحْنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَىْءٍ ۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ
مِن قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿٣٥﴾

**او مشرکان( بې دلیله) وایی چې که الله تعالی غوښتی وای، مونږ او پلرونو به مو، له هغه نه غیر د بل څه عبادت  نه وی کړی  او هیڅ کوم  شی به مو هم  د هغه له حکم نه غیر حرام کړی نه  وی. له دوی نه وړاندې خلکو هم دغه خبرې کولې نو آیا د پیغمبرانو وظیفه( د الهی وحې) له ابلاغ نه بل څه وه؟( بلکه ستره وظیفه یې همدا وه چې خلک د کفر او شرک له ټولو انواعو او طریقو نه  اسلام ته راوګرځوی) .**

وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ
ٱلطَّٰغُوتَۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ هَدَى ٱللَّهُ وَمِنۡهُم مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ
ٱلضَّلَٰلَةُۚ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ
ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٣٦

او مونږ خو هر امت ته پيغمبر د دې پيغام د ابلاغ لپاره استولی چې يوازې د الله تعالی عبادت وکړئ او د طاغوت له( پرستش) نه ځانونه وساتئ، نو يو شمير خلک( د خپل لياقت او استعداد په برکت) د الله تعالی له خوا د هدايت په لاره برابر شول او ځينې نور( د تکبر او عناد له امله) په ګمراهۍ محکوم شول. لاړ شئ په ځمکه کې وګرځئ او وګورئ چې د تکذيب کوونکو انجام او عاقبت څومره بد او ناوړه و؟

إِن تَحۡرِصۡ عَلَىٰ هُدَىٰهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَن يُضِلُّۖ وَمَا لَهُم مِّن
نَّٰصِرِينَ ٣٧

(ای پيغمبره !) که ته هر څو د هغوی د هدايت موندلو لپاره حرص او ارزو ولرې( خو هغوی هدايت نه اخلی) ځکه الله تعالی هغه چاته د هدايت لاره نه ښايی( چې د تکبر اوعناد له امله ګمراه شوی دی). دغه کسان به هيڅ داسې مرستندوی و نه مومی چې دوی د ( ګمراهۍ او عذاب نه ) وژغوری.

وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَا يَبۡعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُۚ بَلَىٰ وَعۡدًا
عَلَيۡهِ حَقّٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٣٨

همدوی وو چې په الله تعالی به يې سخت او غليظ قسمونه خوړل چې الله تعالی به هيڅوک له مرګه وروسته راژوندی نه کړی.(هو، بيشکه الله تعالی پخپل کامل قدرت سره مړی بيرته راژوندی کوی او) دا د هغه حقه وعده ده خو زياتره خلک نه پوهيږی( او د جهالت او ناپوهۍ له امله انکار کوی).

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي يَخۡتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ كَانُواْ
كَٰذِبِينَ ٣٩

(بیشکه مړی راژوندی کوی) ترڅو هغه حقایق روښانه شی چې خلک پکې اختلافات لری او کافران هم پوه شی چې دوی د ( آخرت نه د انکار په ادعا کې) دروغجن وو.

إِنَّمَا قَوۡلُنَا لِشَيۡءٍ إِذَآ أَرَدۡنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٤٠

(د مړو ژوندی کول مونږ ته کوم سخت کار نه دی)مونږ چې د هر کار د سرته رسولو اراده وکړو، ورته امر کوو چې وشه نو هغه کار بیا بې له ځنده وشی.

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْ لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ

وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٤١

او هغو کسانو ته به چې د ظلم له ګاللو وروسته یې د الله تعالی په لار کې هجرت کړی، په دې دنیا کې ډېر ښه مقام او منزلت ورکړو او د آخرت ثواب او اجر یې لا نور هم ډېر زیات غوره او بهتر دی خو که( په کمیت او کیفیت یې) وپوهیږی.

ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٤٢

دا هغه مظلومان دی چې( مصیبتونه، کړاوونه او مظالم یې په سړه سینه) زغملی او یوازې پخپل رب یې توکل کړی دی.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۚ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ

إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٤٣

او(ای محمده!) ستا نه وړاندی تیر شوی پیغمبران ټول انسانان وو، چې مونږ له خپلې وحې سره لیږلی، وو، نو( ای قریشو!)که نه پوهیږئ ( د آسمانی کتابونو) له پوهانو او عالمانو پوښتنه وکړئ.

بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِۗ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ

وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ٤٤

(هر پیغمبر) له څرګندو دلایلو او آسمانی کتاب سره استول شوی او بیا مو تاته له پند او نصیحت نه ډک( قرآن) دروا‌ستاوه، تر څو خلکو ته نازل کړی شوی الهی احکام بیان کړې( چې د هدایت لاره وپیژنی او هم ستا د پیغمبرئ او مبارک قرآن په باب) فکر وکړی.

أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخۡسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ
ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ ٤٥

نو آيا ( د مكې كافران چې د قرآن او پيغمبر په ضد دسيسې او چلوټې جوړوی) له دې نه په امن دی چې الله تعالی يې( د قارون په شان) په ځمكه كې ورښخ كړی او يا ورباندې له داسې لوری عذاب نازل كړی چې دوی يې اټكل او تصور هم نشی كولی؟

أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ فِي تَقَلُّبِهِمۡ فَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ٤٦

او يا يې د ورځنی ژوند د منډو ترړو په اوږدو كې عذاب راونيسی، بيا خو دوی د الله پاک مقابله نشی كولی( او نه يې د قدرت او تسلط له ساحې وتلی شی).

أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ عَلَىٰ تَخَوُّفٖ فَإِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٌ ٤٧

او يا ورباندې له ويرې اوترهې ( او له تهديدونو نه وروسته ) عذاب مسلط شی(او په تدريج سره يې تباه كړی.) نو بيشكه چې ستاسو رب د ډير زيات رحم او مهربانۍ څښتن ذات دی( چې دغه ډول عذاب، نه نازلوی).

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ يَتَفَيَّؤُاْ ظِلَٰلُهُۥ عَنِ ٱلۡيَمِينِ
وَٱلشَّمَآئِلِ سُجَّدٗا لِّلَّهِ وَهُمۡ دَٰخِرُونَ ٤٨

آيا هغو شيانو ته چې الله تعالی پيدا كړی، نه ګورئ چې سيوری يې( په تكوينی ډول) د عاجزئ او تضرع په حال كې ښئ او چپ اړخ ته په تاويدو كې الله تعالی ته سجده كوی( نو وپوهيږئ چې د دغه مقتدر ذات د عذاب مخه نشئ نيولی او بايد تشريعی احكامو ته يې پخپله خوښه او اختيار غاړه كيږدئ).

---

وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن دَآبَّةٖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ٤٩

او يوازې الله تعالی ته سجده كوونكی دی، هغه شيان چې په آسمانونو كې دی او هغه شيان چې په ځمكه كې دی كه ساكښ دی كه پرښته، يوهم د الله تعالی له عبادته سركشئ او غرور نه كوی.

يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ۩ ٥٠

له خپل برلاسی رب نه ويريږی او د الهی اوامرو سره سم خپلې چارې سرته رسوی.

۞ وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَإِيَّٰيَ
فَٱرۡهَبُونِ ٥١

او د الله تعالی قاطعانه فرمان دادی چې: دوه خدایان مه غوره کوئ، بیشکه چې یوازینی حق رب، د الله تعالی ذات دی نو یوازې له ما نه وویرېږئ.

وَلَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًاۚ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَتَّقُونَ ٥٢

او د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات د( الله تعالی) د مالکیت او سلطنت لاندی دی، په تکوینی توګه هر شی د هغه په اطاعت او عبادت مجبور او مکلف دی، نو له الله تعالی نه غیر، له بل چا، ولې وویرېږئ؟

وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ
تَجۡـَٔرُونَ ٥٣

او ستاسو په لاس کې ټول موجود نعمتونه د الله تعالی درکړه او لورینه ده خو که( د سلب نعمت په ډول) کوم مصیبت هم  درورسی، نو منډه مو بیاهم  یوازې د الله تعالی دربار ته ده( او تر ټولو سخت سری مشرکان هم د انسانی فطرت په اساس یوازې  د الله تعالی  دربار ته فریادونه  او دعاګانې کوئ).

ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ٥٤

خو کله چې آفت او مصیبت درنه رفع شی، نو بیا مو یوه ډله( په بیشرمی او ګستاخی ) له خپل رب سره نور شریکان ونیسی.

لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٥٥

ترڅو په هغو نعمتونو ناشکری او کفران وکړی چې مونږ ورکړی، نو(څو ورځې د فانی دنیا له عیشونو) خوند واخلی، بیا به پخپل ناوړه عاقبت پوه شی.

وَيَجۡعَلُونَ لِمَا لَا يَعۡلَمُونَ نَصِيبٗا مِّمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡۗ تَٱللَّهِ لَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا
كُنتُمۡ تَفۡتَرُونَ ٥٦

او له هغه رزق نه چې مونږ یې دوی ته ورکوو، یوه برخه یې د خپلو هغو باطلو خدایانو او بتانو په نوم جلا کوی چې په هیڅ نه پوهیږی( او نه دوی ته کومه ګټه رسوی او نه ترې کوم ضرر دفع کوی) په الله قسم چې د دې ټولو دروغو او افتراآتو پوښتنه به درنه کیږی.

وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ ٱلۡبَنَٰتِ سُبۡحَٰنَهُۥ وَلَهُم مَّا يَشۡتَهُونَ ﴿٥٧﴾

او مشرکان، الله تعالی ته لوڼه منسوبوی، په داسې حال کې چې الله تعالی ( له تولد او تناسل نه) پاک ذات دی او بیا دوی د ځانونو لپاره خپله خوښه (یعنې ځامن) غواړی.

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلۡأُنثَىٰ ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٞ ﴿٥٨﴾

او که کوم تن ته یې د لور د زیږیدو زیری ورکړی شی نو مخ یې( له قهره) تک تور او ټول وجود یې له غم اوغصې نه ډک شی.

يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓۚ أَيُمۡسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمۡ يَدُسُّهُۥ فِي ٱلتُّرَابِۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٥٩﴾

د دې بد خبر په اوریدو سره له خپل قام قبیلې نه پټ ګرځی او په دې فکر کوی چې آیا ماشومه لور د ذلت او حقارت سره وساتی او که ژوندۍ یې په خاورو وردننه کړی. وپوهیږئ چې( د لوڼو په باب) دا ستاسو ډیره بده پریکړه او قضاوت دی.

لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ مَثَلُ ٱلسَّوۡءِۖ وَلِلَّهِ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٦٠﴾

په ناوړو صفتونو ستایل کیدونکی خو هغه کسان دی چې په آخرت ایمان نه لری، او ټول ښه او اعلی صفات د الله تعالی لپاره ځانګړی دی چې په هر کار برلاسی او د حکمت لرونکی ذات دی( او ټولې چارې یې په پوره تدبیر او حکمت روانی دی).

وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلۡمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيۡهَا مِن دَآبَّةٖ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ﴿٦١﴾

که الله تعالی، خلک د ظلم( کفر او نافرماني)  له امله سمدلاسه ونیسي( او سزا ورکړي) نو د ځمکې په مخ به هیڅ ساکښ پاتې نشي( او د دنیا د تسلسل نظم به په ځو شیبو کې له منځه لاړ شي) خو تولې چارې تر یوه ټاکلي وخته ځنډوي( او مجرمینو ته د توبې وخت او مهلت هم ورکوي) او کله چې ټاکلی وخت راورسي، بیا یکې د یوې شیبې وړاندې والي او وروسته والي امکان نشته.

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ ٱلْكَذِبَ أَنَّ
لَهُمُ ٱلْحُسْنَىٰ ۖ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ وَأَنَّهُم مُّفْرَطُونَ ﴿٦٢﴾

او مشرکان هغه څه، الله تعالی ته منسوبوي چې د ځان لپاره یې بد او عار ګڼي( لکه لوڼه) او ژبې په دروغو خوځوي او وايي چې نیک عاقبت د دوی په برخه دی، خو ثابت او باوري حقیقت دا دی چې د دوی په برخه، اور لیکل شوی او په همدغه اور کې تل پاتې کیدونکي دي.

تَٱللَّهِ لَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ
أَعْمَٰلَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾

( ای پیغمبره!) په الله قسم چې ستا نه وړاندې مو هم پیغمبران پخوانیو قومونو ته لیږلي خو شیطان ورته د دوی ناوړه او شرکي اعمال په سترګو کې ښه او معقول وځلول( او د پیغمبرانو خبره یې ورته نامعقوله ښکاره کړه)او نن یې همدغه شیطان دوست او سرپرست دی او د دوی لپاره دردوونکی عذاب دی.

وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۙ
وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾

او مونږ دا کتاب( قرآن) د دې لپاره تاته  نازل کړی تر څو هغه( دیني اساسات لکه توحید،قیامت او د حلالو او حرامو احکام) چې خلک پکې اختلافات لري په پوره توګه تشریح او بیان کړې( او قرآن د دې لپاره هم نازل شوی چې) د ایمان راوړونکو لپاره د هدایت او رحمت وسیله شي.

وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً
لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٥﴾

او همدا د الله تعالی ذات دی چې له آسمانه یې اوبه نازلې کړې او په هغو یې مړه او وچه ځمکه راژوندۍ کړه. بیشکه چې( له وچوالي نه وروسته په دغه زرغونتیا کې د اوریدونکو خلکو لپاره د الله تعالی( د توحید،

**ربوبيت، او قدرت) لويه نښه او دليل پروت دى.( په همدې شان الله تعالى له جاهلانو نه عالمان جوړوى او مړه زړونه راژوندى كوى، په دې شرط چې د الله تعالى كلام د زړه په غوږو، په تفكر او تدبر سره واوريدل شى).**

وَإِنَّ لَكُمْ فِي ٱلْأَنْعَـٰمِ لَعِبْرَةًۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّـٰرِبِينَ ﴿٦٦﴾

**او بيشكه چې ستاسو لپاره په څارويو كې د عبرت درس پروت دى، مونږ تاسو ته د هغوى په نسونو كې د پرتو خوشايو او وينو له منځه، پاكې شيدې برابرې كړى چې د څښونكو لپاره ډيرې خوندورې او په آسانه( له ستونى) تيريدونكى دى.**

وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلْأَعْنَـٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًاۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾

**او د كجورو او انګورو څخه هم تاسو نشه لرونكى او نور ښه پاک او خوندور خوراكونه جوړوئ، په دې حقيقت كې (د الله تعالى د توحيد، ربوبيت او قدرت) نښې دى د هغو خلكو لپاره چې له تعقل نه كار اخلى( او فكر او غور پكې كوى).**

وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحْلِ أَنِ ٱتَّخِذِي مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴿٦٨﴾

**او ستا رب د شاتو مچيو ته لارښوونه وكړه چې په غرونو، ونو او هغو څپريو او ودانيو كې چې خلک يې لوړ جوړوى، د ځان لپاره ځالې جوړې كړئ.**

ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًاۚ يَخْرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾

**بيا هر ډول ميوې وخورئ او په هغو لارو چې رب مو درته آسانې كړى( د شاتو د كندوانو په لور) والوزئ. د مچيو له خيټو نه په بيلابيلو رنګونو جوړ شوى شربت( شات) راوځى چې د خلكو لپاره پكې شفا ده. بيشكه**

چې په دې حقيقت کې (د الله تعالى د قدرت، مهرباني او رحمت) نښه ده د هغو خلکو لپاره چې فکر کوونکی دي.

وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفَّىٰكُمْ ۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ لِكَىْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٧٠﴾

او الله تعالى تاسو پيدا کړی يئ، بيا مو وفات کوی، ځيني مو د ژوند( داسې) ذليلې مرحلې ته رسوی چې خپله توله شته پوهه( او حافظه) له لاسه ورکوی، بيشکه چې يوازې الله تعالى په هر څه پوه او د کامل قدرت لرونکی ذات دی.

وَٱللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ فِى ٱلرِّزْقِ ۚ فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُوا۟ بِرَآدِّى رِزْقِهِمْ عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَآءٌ ۚ أَفَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٧١﴾

الله تعالى په تاسو کې ځينو ته( د هغوی د استعدادونو او فعاليتونو په تناسب) د نورو په نسبت زيات مال دولت ورکوی، خو کوم کسان چې زيات ثروت ترلاسه کړي، نه غواړی چې د خپلې سرمايې څه برخه خپلو غلامانو ته ورکړی او له ځان سره يې يوشان شتمن کړی(نو کافران بيا ولې مخلوقات له الله تعالى سره په الوهيت او د کايناتو په اداره او تدبير کې شريک ګڼی) آيا دا د الله تعالى د نعمتونو( څرګند) کفران نه دی؟

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ۚ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَتِ ٱللَّهِ هُمْ يَكْفُرُونَ ﴿٧٢﴾

او الله تعالى تاسو ته ستاسو له جنس نه ميرمنې پيدا کړې او له هغو يې درته اولادونه او لمسيان هم درکړل او ډول ډول پاک او خوندور خوراکونه يې هم درباندی ولورول( نو له دغو ټولو مهربانيو او رحمتونو سره سره بيا هم، په باطل ايمان لرئ او د الله تعالى په نعمت( اسلام) کافران کيږئ( او ناشکری يې کوئ؟).

وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ
شَيْـًٔا وَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٧٣﴾

**او (مشرکان) د الله تعالی په ځای د هغو باطلو معبودانو عبادت کوي چې دوی ته د روزۍ ورکولو لپاره، نه له آسمانه( باران ورولی شي)او نه له ځمکې( نباتات راټوکولی شي) او نه کوم بل توان او طاقت ورسره دی.**

فَلَا تَضْرِبُوا۟ لِلَّهِ ٱلْأَمْثَالَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٧٤﴾

**نو د الله تعالی لپاره( د موجوداتو او مخلوقاتو) مثالونه مه وړاندې کوئ، بیشکه چې الله تعالی( د خپل ذات او صفاتو په حقیقت) ښه پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ.**

۞ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوكًا لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَىْءٍ وَمَن
رَّزَقْنَٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا ۖ هَلْ
يَسْتَوُۥنَ ۚ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

**الله تعالی یو مثال بیانوي د یوه تن، چې د بل چا زرخرید غلام دی او د هیڅ کار قدرت او لیاقت نه لري، او بل هغه سړی دی چې مونږ ورته ښه پراخه روزي او سرمایه ورکړې او هغه ترې په پټه او ښکاره په خلاص مټ انفاق او مصارف کوي، آیا دغه دواړه سره برابر دي؟ (دغه مثال د الله تعالی د مقام او منزلت دی چې د ټولو مخلوقاتو فرمانروا او د آسمانونو او ځمکې د خزانو حقیقي مالک او واکدار دی نو تاسو ورته ولې په ربوبیت کې شریکان ټاکئ، آیا د الله تعالی مقتدر ذات له ناتوانه بت سره برابروئ؟) ټوله ثنا او اعلی صفتونه د الله تعالی( د واحد او لاشریک ذات) لپاره ځانګړي دي خو د دوی زیاتره خلک په دې حقیقت نه پوهیږي.**

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ أَحَدُهُمَآ أَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلَىٰ
شَىْءٍ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوْلَىٰهُ أَيْنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ ۖ هَلْ
يَسْتَوِى هُوَ وَمَن يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٦﴾

**او الله تعالی( بل) مثال وړاندې کوي: دوه کسان دي چې یو یې ګونګ( او کوڼ) او د هیڅ ډول کار او فعالیت جوګه نه، بلکه د خپل بادار په اوږو پیټی دی، که په کوم کار پسې یې واستوي، څه خیر او ګټه نه راوړي . نو آیا دی له هغه چا سره برابر دی چې( فصیح او بلیغ دی) او خلک عدالت او انصاف ته رابلي او پخپله هم په**

مستقیمه لار روان دی( نو تاسو ولې بتانو ته د خدایی درجه ورکوئ؟ یا یو ړوند او کوڼ مشرک چې د الله تعالی رزق ته احتیاج دی، او د هیڅ ډول کار او فعالیت قدرت هم نه لری، له هغه قانت مؤمن سره څنګه برابروئ چې پخپله هم د هدایت په مستقیمه لار روان دی او نورو ته هم د ایمان او هدایت بلنه ورکوی؟)

وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَآ أَمْرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ
ٱلْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٧٧﴾

د آسمانونو او ځمکې( او د انسانی قوتونو او استعدادونو) ټول پټ اسرار، یوازې الله تعالی ته معلوم دی او د قیامت قیام( د هغه لپاره) د سترګو د رپ ، بلکه له دې نه هم نږدې دی. بیشکه چې الله تعالی په هر کار برلاسی او د طاقت لرونکی ذات دی.

وَٱللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَجَعَلَ
لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾

او الله تعالی دی چې تاسو یې د میندو له نسونو راوویستی ( په داسې حال کې) چې په هیڅ نه پوهیدئ او تاسو ته یې غوږونه، سترګې او زړونه ( او د علم او پرمختګ لپاره نور ذرایع او اعضاء او جوارح ) درکړل ترڅو یې د هر نعمت شکر په ځای کړئ.

أَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَى ٱلطَّيْرِ مُسَخَّرَٰتٍ فِى جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا يُمْسِكُهُنَّ
إِلَّا ٱللَّهُ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٧٩﴾

آیا هغو الوتونکو مارغانو ته نه ګورئ چې( الله تعالی ورته د هغوی د حال سره مناسب داسې فطری قوتونه ورکړی، چې د ځمکې د جاذبې قوه یې هم راغورځولی نشی بلکه)هر یو په هوا کې ( د الله تعالی د تکوینی فرمان) تابع او منقاد دی او یوازې د الله تعالی مقتدر ذات یې ( له راغورزیدو) ساتی .( د مارغانو په دغه تسخیر او اوصافو کې د الله تعالی د توحید، ربوبیت او کامل قدرت) نښې پرتې دی د هغو کسانو لپاره چې ایمان راوړی.

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمۡ سَكَنٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ
ٱلۡأَنۡعَٰمِ بُيُوتٗا تَسۡتَخِفُّونَهَا يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ وَيَوۡمَ إِقَامَتِكُمۡ وَمِنۡ
أَصۡوَافِهَا وَأَوۡبَارِهَا وَأَشۡعَارِهَآ أَثَٰثٗا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ﴿٨٠﴾

او الله تعالی دی چې ستاسو کورونه یې درته د هستوګنې او آرام وړ وګرځول، او د څاوریو له پوستکو یې درته د داسې سپکو کورونو( لکه کیږدۍ او تمبوګان) جوړول درزده کړل چې د سفر او اقامت په وخت کې یې انتقالول او نصبول ډیر آسانه او بې تکلیف دی، او د ( دغو) څارویو له پوستکو، وړیو، پشمونو او ویښتانو( وژغنو) څخه ډیر داسې وسایل جوړوۍ چې د ژوند تر ټاکلې مودې ترې ګټه واخلۍ.

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ
ٱلۡجِبَالِ أَكۡنَٰنٗا وَجَعَلَ لَكُمۡ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلۡحَرَّ
وَسَرَٰبِيلَ تَقِيكُم بَأۡسَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ
لَعَلَّكُمۡ تُسۡلِمُونَ ﴿٨١﴾

او الله تعالی له ټولو هغو شیانو چې پیدا کړی یې دی، تاسو ته ترې سیوری هم برابر کړی( ترڅو د ګرمۍ په وخت کې ورباندې هوسا او آرام شۍ). او په غرونو کی یې هم ستاسو لپاره سمڅې جوړې کړې، او پوښاک یې درکړی چې له ګرمۍ مو وژغوری او داسې( اوسپنیز) پوښاک یې هم درکړی چې په جګړو کې مو حفاظت کوی. په دې توګه الله تعالی خپل نعمتونه په تاسو پوره کوی ترڅو یې احکامو ته په پوره توګه غاړه کیږدۍ.

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٨٢﴾

(نو ای پیغمبره! که له دغو الهی مهربانیو او رحمتونو نه وروسته) بیا هم دوی له حق نه مخ وګرځوی( ورباندې مه خفه کیږه) ځکه ستا وظیفه، خلکو ته په صراحت او وضاحت د الهی احکامو ابلاغول دی او بس.

يَعۡرِفُونَ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكۡثَرُهُمُ
ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٨٣﴾

هغوی د الله تعالی نعمتونه(علماً) پیژنی خو( د کبر او لجاجت له مخې) ترې انکار کوی او زیاتره یې حق منلو ته تیار نه دی.

وَيَوۡمَ نَبۡعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٖ شَهِيدٗا ثُمَّ لَا يُؤۡذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ٨٤

او هغه ورځ (هم راتلونکې ده چې ټول پخوانی او وروستی امتونه د الله احکم الحاکمین په وروستی عدالت کې سره ودرېږی) او مونږ له هر امت نه یو یو ګواه راپورته کړو، نو بیا به کافرانو ته، نه د معذرت اجازه ورکړی کېږی او نه به ورڅخه د رب د راضی کولو او ښښنې غوښتنه کېږی.

وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلۡعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ٨٥

او کله چې ظالمان عذاب ووینی( بیا به پوه شی چې د تیښتې او نجات لاره نه لری، نه به وربانديې عذاب کمیږی او نه به ورته( دنیا ته د بیرته تللو او نیکو اعمالو) مهلت ورکړی کیږی.

وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ شُرَكَآءَهُمۡ قَالُواْ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا ٱلَّذِينَ كُنَّا نَدۡعُواْ مِن دُونِكَۖ فَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلَ إِنَّكُمۡ لَكَٰذِبُونَ ٨٦

او( د قیامت په محضر کې) چې مشرکان خپل (تش په نامه او باطل خدایان او انګیرلی) شریکان ووینی، وبه وایی: ای زمونږ ربه! دا هماغه دی چې مونږ به یې ستا په ځای عبادت کاوه( او دوی زمونږ د ګمراهی اصلی عاملان وو). خو باطل خدایان به ورته( خبره په خولو کې ور وچه کړی او) ورته به ووایی: دروغ وایې ( ځکه تاسو خو د خپلو نفسی خواهشاتو، کبر او لجاجت ښکار شوی یاست.)

وَأَلۡقَوۡاْ إِلَى ٱللَّهِ يَوۡمَئِذٍ ٱلسَّلَمَۖ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٨٧

( او په دغه ورځ به ټول مشرکان) د الله تعالی دربار ته د تسلیمۍ او اطاعت سرونه ټیټ کړی او هغه ټول باطل خدایان به، تری تم شی چې دوی به په دروغو د الله تعالی شریکان ګڼل.

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ زِدۡنَٰهُمۡ عَذَابٗا فَوۡقَ
ٱلۡعَذَابِ بِمَا كَانُواْ يُفۡسِدُونَ ٨٨

مونږ به هغو کسانو ته چې کافران شوی او نور خلک یې هم د الله تعالی له لارې منع کړې، د دوی د ورانکاریو او پرله پسې فساد له امله دوه چنده عذاب ورکړو( یو یې د خپل کفر او بل یې د کفر د تعمیم له امله. لکه څنګه چې د اهل جنت منازل او مدارج جلا جلا دی، په جهنم کې هم د دوزخیانو مدارج د کمیت او کیفیت او نوعیت له پلوه سره توپیر لری).

وَيَوۡمَ نَبۡعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٖ شَهِيدًا عَلَيۡهِم مِّنۡ أَنفُسِهِمۡۖ وَجِئۡنَا بِكَ
شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ تِبۡيَٰنٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ
وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ ٨٩

(او هغه ورځ له یاده مه باسئ) چې په هر امت باندې به د هغوی خپل ګواه ورته راپورته کړو. او ( ای د اسلام پیغمبره!) تا به په دې امت ګواه کړو او تا ته مو داسې کتاب نازل کړی چې هر څه( د هدایت علوم، د دین اصول او د دنیوی او اخروی نیکمرغۍ ټولې لارې چارې) پکې په وضاحت او صراحت بیان شوی او( د الهی احکامو) د منونکو لپاره د هدایت، رحمت او خوښۍ زیری ورکوونکی دی.

۞ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ
وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ
تَذَكَّرُونَ ٩٠

بې له شکه الله تعالی د عدالت او احسان په تأمین او خپلو خپلوانو ته د بخششونو په ورکولو او له بې حیایۍ او قبیحه کارونو او منکراتو او ظلم او تیری څخه په ځان ساتلو امر کوی. تاسو ته نصیحت کوی ترڅو په دې حقیقت پوه شئ (چې د الهی فرمانونو په تطبیق کې ستاسو د دنیوی او اخروی نیکمرغۍ زیری پروت دی ).

وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ إِذَا عَٰهَدتُّمۡ وَلَا تَنقُضُواْ ٱلۡأَيۡمَٰنَ بَعۡدَ
تَوۡكِيدِهَا وَقَدۡ جَعَلۡتُمُ ٱللَّهَ عَلَيۡكُمۡ كَفِيلًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا
تَفۡعَلُونَ ﴿٩١﴾

او (ای مؤمنانو!) له الله تعالی سره پخپلو وعدو وفا وکړئ او خپل هغه ټینګ سوګندونه مه ماتوئ چې مو یاد کړی او الله تعالی مو پخپلو نفسونو ضامن او کفیل ټاکلی دی. بیشکه چې الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو ډیر ښه پوهیږی.

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّتِي نَقَضَتۡ غَزۡلَهَا مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ أَنكَٰثٗا
تَتَّخِذُونَ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرۡبَىٰ مِنۡ
أُمَّةٍۚ إِنَّمَا يَبۡلُوكُمُ ٱللَّهُ بِهِۦۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَا كُنتُمۡ فِيهِ
تَخۡتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾

او( پخپلو تعهداتو کې) د هغې ښځې په شان مه کیږئ چې وړئ به یې له اوبدلو وروسته بیرته خلاصې او تار په تار کړې. تاسو خپل سوګندونه د یوې ډلې د قوت او د بلې ډلې د کمزورتیا له امله، مه ماتوئ او د یو بل د تیرویستلو او خیانت د وسیلې په توګه ترې هم کار مه اخلئ. الله تعالی( په تعهداتو باندې د وفا او ثبات د ټینګار په امر سره) تاسو امتحانوی او د قیامت په ورځ به ټول هغه حقایق درته روښانه شی چې تاسو پکې اختلافات درلودل.

وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ
وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَلَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٩٣﴾

**که الله تعالی وغواړی نو تاسو به ټول د یوه واحد امت په حیث( د هدایت په محور) سره راټول کړی( خو اجباری هدایت د الهی اصولو خلاف دی) نو هر چاته چې وغواړی( د لجاجت او تکبر له امله یې) ګمراه کوی او چاته چې وغواړی د هدایت په لاره یې برابروی او بیشکه چې له تاسو به ستاسو د ټولو اعمالو او کړنو پوښتنه کیږی.**

وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ فَتَزِلَّ قَدَمُۢ بَعۡدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُواْ ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَلَكُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿٩٤﴾

**(ای مؤمنانو!) قسمونه مو، د خپل منځی خیانت ( او مکر او فریب) د وسیلې په حیث مه کاروی، هسې نه چې( ستاسو د بد عهدی او ناحقه سوګندونو له امله اسلامی اصول بدنام او د یو شمیر مسلمانانو) قدمونه په ایمان راوړلو نه وروسته وښوئیږی( او د ایمانی تذبذب او یا انحراف ګناه یې هم ستاسو په غاړه شی) او تاسو د الله تعالی له لارې د ګمراه کوونکو په حیث له ناوړه انجام او ستر عذاب سره مخامخ شی.**

وَلَا تَشۡتَرُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٩٥﴾

**او د الله تعالی په نوم، کړی تعهدات او تړونونه مو په بې ارزښته مادی ګټو، مه پلوری ځکه( له الله تعالی سره په وعده وفا له ټولو مادی ګټو نه زیاته مقدمه او محترمه ده) او هغه( اجر او ثواب) چې له الله تعالی سره دی ستاسو لپاره غوره او بهتر دی، خو که پوهیږی.**

مَا عِندَكُمۡ يَنفَدُ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٖۗ وَلَنَجۡزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓاْ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٩٦﴾

**ستاسو مال او سرمایه ټوله فانی او له منځه تلونکی ده، خو د رحمت هغه خزانې چې له الله تعالی سره دی، تل پاتې او ابدی دی او هغه کسان چې( د خپل دین د پرمختګ لپاره یې) مشکلات او کړاوونه په صبر او ثبات سره په سړه سینه زغملی، اجر یې (نه ضایع کیدونکی دی) او هرو مرو ورکړی کیږی.**

مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ
حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟
يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾

**نیک عمله نارینه دی که ښځې، خو( په دې شرط) چې مؤمن وی، مونږ به ورته پاک او سپیڅلی او خوندور ژوند(حلاله روزی، قناعت، د زړه غنا او سکون او د ذکرالله لذت) ورپه برخه کړو، او د نیکو اعمالو له امله به ورته اجر او ثواب هم ورکړو.**

فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾

**نو د قرآن د تلاوت په پیل کې، د الله تعالی په نوم له رټل شوی شیطان نه پناه وغواړه( د زړه له صدقه په الله تعالی توکل وکړه او ووایه: اعوذ بالله من الشیطان الرجیم).**

إِنَّهُۥ لَيْسَ لَهُۥ سُلْطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ
يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾

**پخه خبره دا ده چې شیطان په هغو کسانو مسلط او لاس بری نه دی چې ایمان یې راوړی او پخپل رب توکل کوی.**

إِنَّمَا سُلْطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ
مُشْرِكُونَ ﴿١٠٠﴾

**( بلکه) د شیطان سلطه یوازې په هغو کسانو ده چې د ده سرپرستۍ ته یې سر ټیټ کړی او په هغو کسانو یې هم لاس بر دی چې د همده په امر یې د کفر او شرک لاره غوره کړې ده.**

وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ ۙ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا
يُنَزِّلُ قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مُفْتَرٍۭ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾

او کله چې مونږ( د وخت او حالاتو د مصالحو له مخې) یو آیت منسوخوو، او په ځای یې بل آیت( له نوی حکم سره) نازلوو، او الله تعالی د خپلو احکامو د نزول په مصالحو پخپله ډیر ښه پوهیږی، خو کافران ( پیغمبر ته) وایی چې دا تا له ځانه جوړ کړی دی.( داسې نه ده) بلکه د دوی زیاتره خلک( د تبدیل شویو احکامو په اسرارو او مصالحو) نه پوهیږی.

قُلۡ نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلۡقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلۡحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ وَهُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ ١٠٢

ورته ووایه چې قرآن، په حقه، ستا د رب له لوری، د روح القدس(جبرائیل) په واسطه، رالیږل شوی، ترڅو د ایمان د خاوندانو زړونه ( په تدریجی توګه) نورهم په ایمان ټینګ شی او هم( دا قرآن) د مسلمانانو لپاره د هدایت( منبع او د جنت) زیری دی.

وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّهُمۡ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٞۗ لِّسَانُ ٱلَّذِي
يُلۡحِدُونَ إِلَيۡهِ أَعۡجَمِيّٞ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيّٞ مُّبِينٌ ١٠٣

او مونږ پوهیږو چې مشرکین وایی دغه آیتونه یو انسان تاته درزده کوی( خو داسې نه ده) ځکه د دغه سړی ژبه چې دوی یې(ستا د ښوونکی) په نوم یادوی،عجمی ده او د قرآن ژبه خو فصیحه سوچه عربی ده.

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَا يَهۡدِيهِمُ ٱللَّهُ وَلَهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٌ ١٠٤

هغه کسان چې د الله تعالی په آیتونو ایمان نه راوړی( او له ښکاره دلایلو له اوریدو سره سره، بیا هم په کفر ټینګار کوی) الله تعالی یې هیڅکله د هدایت په لاره نه برابروی او په آخرت کې یې دردوونکی عذاب هم په برخه دی.

إِنَّمَا يَفۡتَرِي ٱلۡكَذِبَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ١٠٥

( پیغمبر علیه السلام هیڅکله درواغ نه وایی)، دروغ یوازې هغه کسان جوړوی چې د الله تعالی په آیتونو ایمان نه لری او حرفوی دروغجنان دی.

مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرٗا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ١٠٦

څوک چې له ایمان راوړلو نه وروسته، د الله تعالی له ذات نه منکر او کافر شی( په الهی عذاب به اخته کیږی) البته هغه کس مستثنا دی چې په زور او جبر کفر ته اړ کړی شی او زړه یې په اسلام مطمئن او ډاډمن وی. خو چا چې خپله سینه کفر منلو ته پراخه کړی وی( او پخپله خوښه یې کفر منلی وی) د الله تعالی د سخت قهر او غضب وړ، او ټول دغسې کسان په لوی عذاب محکوم دی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٠٧

( دوی ځکه د دغه قهر او عذاب وړ ګرځیدلی چې ژر تیریدونکی) دنیوی ژوند یې د آخرت( په تلپاتې نیکمرغیو) غوره ګڼلی او الله تعالی هیڅکله( دغه ډول) کافران د هدایت او نیکمرغۍ په لاره نه برابروی.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ١٠٨

دا هغه کسان دی چې الله تعالی ورته په زړونو( د حق نه منلو)، په غوږونو( د حق نه اوریدلو) او په سترګو( د الهی قدرت د اثارو د نه لیدلو او بدبختی) ټاپې وهلی او( له آخرت نه) بې خبره او غافلان دی.

لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٠٩

بیشکه چې دوی په آخرت کې واقعی زیانمن( او د ژوند ټولې هلې ځلې یې برباد او په سیند لاهو) دی.

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ مِنۢ بَعْدِ مَا فُتِنُوا۟ ثُمَّ
جَٰهَدُوا۟ وَصَبَرُوٓا۟ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ
رَّحِيمٌ ﴿١١٠﴾

**خو بیا ستا رب په هغو کسانو ډیر مهربانه او رحمت وروونکی دی چې( د مشرکانو) د زور زیاتی له امله یې هجرت کړی( او د خپلو دینی ارښتونو د ساتنې او دفاع لپاره) په صبر او ثبات د مقدس جهاد ډګر ته وتلی دی.**

۞ يَوْمَ تَأْتِى كُلُّ نَفْسٍ تُجَٰدِلُ عَن نَّفْسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا
عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١١١﴾

**هغه ورځ (یاده کړئ) چې هر نفس به( د الله تعالی په عدالت کې) ولاړ او( د خپل برأت او دفاع لپاره به ډول ډول) عذرونه او دلایل وړاندې کوی هر یو به د خپل عمل مکافات او مجازات ووینی او په چا باندې به هیڅ ډول ظلم ونشی.**

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ ءَامِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا
رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ
لِبَاسَ ٱلْجُوعِ وَٱلْخَوْفِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿١١٢﴾

**او الله تعالی( د الهی نعمتونو ناشکرانو ته د پند او عبرت لپاره) د هغه ښار مثال وړاندې کوی چې عمومی امن او هوسایی پکې تأمین وه او په اوسیدونکو یې له هرې خوا د نعمتونو کاروانونه راروان وو، خو کله چې یې د الله تعالی د لورینو ناشکری وکړه، الله تعالی ورباندې د دوی د ناوړو اعمالو په سزا کې لوږه او ویره( هر اړخیزه بلا او مصیبت) مسلط کړ.**

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ وَهُمْ
ظَٰلِمُونَ ﴿١١٣﴾

**( او د هدایت لپاره یې ورته) د دوی یو خپل سړی د پیغمبر په حیث هم ورغی خو دوی دروغجن وګاڼه او (تر هغه یې) په ځانونو تیری وکړ چې د الله تعالی د قهر او عذاب وړ وګرځیدل.**

فَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَٱشۡكُرُواْ نِعۡمَتَ
ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ١١٤

نو (ای انسانی پرګنو!) د الله تعالی هغه پاک او حلال خواړه، چې په تاسو یې لوروی، وخوری او د الله تعالی د نعمتونو شکریه په ځای کړی که په ربښتینی توګه د هغه عبادت کوونکی یاست.

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ
لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ١١٥

الله تعالی په تاسو باندې یوازې د مردار ځاروی غوښه، بهیدونکی وینه او د خنځیر غوښه او د هغه ځاروی غوښه چې له الله تعالی نه غیر، د بل چا په نوم ذبح شوی وی حرام کړی دی، خو که څوک( د مرګ له خطر نه د نجات لپاره د ضرورت په اندازه وخوری) او هدف یې له الهی قانون نه بغاوت او د ضرورت له حده تیری نه وی( نو ګناه وربانديې نشته) بیشکه چې الله تعالی ډیر زیات ښېنونکی او رحم کوونکی ذات دی.

وَلَا تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلۡسِنَتُكُمُ ٱلۡكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٞ وَهَٰذَا
حَرَامٞ لِّتَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ لَا
يُفۡلِحُونَ ١١٦

او له خپله ځانه( بې دلیله فتواوې مه ورکوئ او) مه وایئ چې دا حلال دی او دا حرام.هسې نه چې( په دغه ډول بې دلیله فتواو سره) په الله تعالی باندې دروغ وتړئ( او په ناحقه ووایئ چې دا د حلالو او حرامو حکم د الله تعالی له خوا دی) بیشکه چې په الله تعالی باندې دروغ تړونکی هیڅکله هم بریالیتوب ته نشی رسیدی.

مَتَٰعٞ قَلِيلٞ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١١٧

( دوی به د خپلو ناوړو اعمالو سره سره)په موقتی توګه د دنیوی ژوند له خوږو برخمن شی خو( په قیامت کې) ورته دردناک عذاب تاکل شوی دی.

وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا مَا قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُۖ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن
كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ١١٨

او په یهودو باندې مو چې کوم شیان حرام کړی وو، مخکې مو( په سورة انعام کې) تاته تشریح کړی دی، او مونږ په هغوی تیری نه و کړی بلکه همدوی وو چې په ځانونو یې ظلم کاوه.

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ
ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١١٩

نو ښه خبره داده چې که څوک په ناپوهی سره کومه ګناه وکړی او بیا توبه وباسی( او خپل مفاسد) اصلاح کړی، ستا رب ورته تیر ګناهونه( که هر څومره لوی هم وی)وربښنی، ځکه ستا رب( په توبه ویستونکو او اصلاح شویو) ډیر زیات ښښونکی او مهربان دی.

إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةٗ قَانِتٗا لِّلَّهِ حَنِيفٗا وَلَمۡ يَكُ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٢٠

بې له شکه، ابراهیم( د موحدینو امام او په یوازې ځان)  یو امت و( الله تعالی د یو لوی امت ټول محاسن او کمالات د هغه په وجود کې راجمع کړی وو) د الله تعالی فرامینو ته غاړه ایښودونکی او د توحید او ایمان په لاره روان و، او هیڅکله هم د مشرکانو په ډله کې شامل نه و.

شَاكِرٗا لِّأَنۡعُمِهِۚ ٱجۡتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٢١

د الهی نعمتونو ښه شکر کوونکی و،الله تعالی(د نبوت لپاره) غوره کړی او د هدایت مستقیمه لار یې ورته ښودلې وه.

وَءَاتَيۡنَٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٢٢

او په دنیا کې مو هغه ته نیک ژوند( نبوت، نیک اولاد، په خلکو کې ذکر جمیل او عمومی مقبولیت او هغه ته د ټولو ادیانو کامل احترام) ورپه برخه کړ او په آخرت کې به هم په صالحینو او غوره شخصیتونو کې شامل وی.

ثُمَّ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ أَنِ ٱتَّبِعۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٢٣

**بیا مو تاته د وحې په وسیله حکم وکړ چې په توحید کې د حق پالونکی ابراهیم لاره تعقیب کړه، چې هغه د اسلام په لاره سم روان و او له مشرکانو څخه نه و.**

إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبۡتُ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِۚ وَإِنَّ رَبَّكَ
لَيَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١٢٤

**د شنبې د ورځې د ښکار تحریم د هغو کسانو لپاره وضع شوی و، چې د دغې ورځې( د آزادۍ او ممنوعیت) په باب سره په اختلاف کې وو، او ستا رب به د دوی ترمنځ د اختلافی مسائلو په باب رښتینې فیصله، د قیامت په ورځ وکړی.**

ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم
بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ
أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ١٢٥

**ای پیغمبره! په حکمت او نیک نصیحت سره، خلک د خپل رب لوری ته راوبله او په احسنه طریقه ورسره( د خپل دین او اهدافو په باب) بحث او مجادله وکړه. بیشکه چې ستا رب ته منحرفین هم ښه معلوم دی او د هدایت په لاره روان کسان هم ښه پیژني.**

وَإِنۡ عَاقَبۡتُمۡ فَعَاقِبُواْ بِمِثۡلِ مَا عُوقِبۡتُم بِهِۦۖ وَلَئِن صَبَرۡتُمۡ لَهُوَ
خَيۡرٞ لِّلصَّٰبِرِينَ ١٢٦

**او که (هغو کسانو ته چې ستاسو په حقوقو یې تیری کړی او یا یې د اسلامی دعوت او تبلیغ په لاره کې درته زجر او تکلیف رسولی) سزا ورکوئ نو د جرم مطابق ورته سزا ورکړئ، او که صبر وکړئ ( او له سزا ورکولو نه یې تیر شئ) نو نتیجه یې د صبر کوونکو لپاره ډیره غوره او بهتره ده.**

وَٱصۡبِرۡ وَمَا صَبۡرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُ فِي
ضَيۡقٖ مِّمَّا يَمۡكُرُونَ ﴿١٢٧﴾

او( په ستونزو او مصيبتونو) صبر کوه او یوازې الله تعالی دی چې تا ته د صبر توفيق درکوی او د کافرانو په (ګمراهۍ او ايمان نه راوړلو ) مه خفه کيږه او په چلوټو او دسيسو يې هم زړه مه تنګوه.

إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ ﴿١٢٨﴾

بيشکه چې الله تعالی د پرهيزګارانو او محسنانو ملګری دی.

«تمت سورة النحل بعون الله و توفيقه- والحمد لله رب العالمين»

======================